## په حزب کې تبني او په ښځو پورې اړوند حکمونه

**پوښتنه**

**زموږ اميره، اسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!**

هر مسلمان غواړي چې د الله سبحانه و تعالی د رضا لاسته راوړلو په موخه يو مخلص شخص او د هغه فرمان منونکی وي. ايا د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم امر منل د دې لامل ګرځي، چې پربنسټ يې يو کس د حزب ټول دستورونه او اجتهادونه (نظرونه) و مني، کوم چې ته يې ترسره کوې او دا اجتهادونه له هغو څخه بېل دي چې ما مخکې پرې عمل کړی ... زه د هغې ښځې د عورت اړوند نظر لرم کوم چې د خپل محرم او بلې مسلمانې ښځې پر وړاندې يې لري. ځينې عالمان وايي چې د يوې ښځې عورت د خپل محرم او بلې مسلمانې مېرمنې پر وړاندې له نامه څخه تر زنګو پورې دي. دغه راز د هغې حايضې ښځې په اړه پوښتنه ده چې د قران تلاوت کوي، هغه مهال چې د مياشتنۍ ناروغۍ وخت يې اوږد شي؟ زه په دې اړه څرنګوالی غواړم، ځکه زموږ تر منځ نه پوهاوي او د څرنګوالي نه شتون ډېرې اندېښنې او لفظي شخړې را ولاړې کړې دي او ډېرې مهال د وخت د ضايع کېدو لامل ګرځي. ښښنه غواړم چې پر موضوع مې ټينګار وکړ او ستاسو وخت مې ونيو. له الله سبحانه وتعالی څخه در ته د هدايت او بصيرت غوښتنه کوم.

د سونديس راګام له لوري.

**ځواب**

**وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته!**

۱-تبني په حزب التحرير کې له پيله د لمر په څېر ښکاره رول لري او د الله سبحانه وتعالی په غوښتنه په دې کې هېڅ ډول ابهام او ناڅرګندوالی نشته. هغه څوک چې غواړي له حزب سره کار وکړي، نو د دې ډلې سره د غړيتوب لپاره ژمنې ته اړتيا ده، ترڅو د حزب مفکورو، نظرونو او دستور ته په شفاهي او عملي توګه غاړه کېږدي. د دې ژمنې پر بنسټ، پر نوموړي کس لازمه ده چې د حزب تبني ته په خپلو کړنو کې ځای ورکړي. دغه راز، دغه ژمنې ته په کتو سره به نور ټول غيري حزبي مفکورې چې له حزب سره په ټکر کې دي، پرېږدي او د حزب تبني ته به له فکري او عملي پلوه جامه وراغوندي. دا که د حزب تبني په فکري، سياسي او فقهي برخه کې وي او يا هم په اداري برخه کې.

۲-له همدې امله د حزب لخوا چې د هرې موضوع په تړاو نظر وړاندې کېږي، د حزب غړي يې د عملي کېدو مکلفيت نه لري. بلکې د ټولو هغو مسايلو ترمنځ بايد توپير وکړي، چې د شريعت او ادارې په اړه کې يې ترسره کوي او هغه څه پرېږدي چې د شريعت او ادارې له اصول سره سم نه وي. دا بايد و پوښتي چې ايا دا تبني شوی نظر دی که نه؛ که نظر تبني شوی و بيا يې فکرا او عملا په منلو مکلف دی، ځکه چې د حزب غړی دی، دا يې پر ځان منلې او د شريعت او ادارې اصولو ته په کتو سره يې حتمي بايد ترسره کړي. که نظر نه وي تبني شوی بيا اړ نه دی چې و يې مني او په عمل کې يې ترسره کړي.

د دې يوه بېلگه په پوښتنه کې راغلې وه.

الف- د يوې مېرمنې عورت د خپل محرم او د بلې مسلمانې مېرمنې پر وړاندې، لکه څرنگه چې په ټولنيز نظام کې ترې يادونه شوې:

يعنې يو سړی اجازه لري چې د خپلې محرمې ښځې پر لاسونو او مخ سربېره د هغې د زينت (سينگار) ځايونه هم وگوري. دا که مېرمنه يې مسلمانه وي يا نه، پرته له دې چې د بدن برخې يې له کتو څخه محدودې شي. دا د موضوع اړوند نص کې په مطلق ډول راغلی. الله سبحانه و تعالی په دې اړه فرمايي:

**﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ﴾**

[النور:۳۱]

***ژباړه:*** *هغوی دې له دغو خلکو پرته خپل سينگار چاته نه ښکاره کوي: مېړونه، پلرونه، د مېړه پلرونه، خپل زامن، د مېړونو زامن (بنزيان)، وروڼه، وربېرونه، خوريان، خپلې ښځې، خپل مملوک، خپل هغه لاس لاندې نارينه چې ښځو ته حاجت نه لري او هغه ماشومان چې لا تراوسه پورې د ښځو له پټو خبرو سره اشنا شوي نه وي، يعنې په دغو ماشومانو کې جنسي غريزې نه وي را ژوندۍ شوې.*

په دغه ايات کې الله سبحانه و تعالی فرمايي: «**وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ**» او دوی دې خپل د سينگار او ښايست ځايونه نه ښکاره کوي. يعنې له هغو ځايونو پرته چې په قران کې يې يادونه شوې. ځينې خلک بيا داسې هم وايي، هغه څه چې د مېرمنې د کور په کاليو کې ښکاره کېږي، روا دي. الشافعي په خپل مسند کې د زينب بنت ابی سلمان څخه روايت کوي، چې دې اسما ته چې د زبير مېرمن ده، د خپلې سينې شيدې ورکولې. دې وويل: «ما ده ته د خپل پلار په سترگه کتل. دی چې کله تېرېده، نو ما خپل سر موږنځاوه. زما وېښتيانو ته يې وکتل او وه يې ويل: دلته راشه. په يو بل روايت کې راځي، کله چې ابوسفيان د حديبيې تړون د نوي کولو لپاره مدينې ته راغی، نو د خپلې لور حبيبې چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم مېرمن وه، ليدو ته ورغی. کله چې ابوسفيان د حبيبې کور ته ننوت، هغې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم بستره ټولوله، څو دی پرې کېنې. پر همدې مهال د حبيبې سر د خپل پلار پر وړاندې لوڅ و. نوموړې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د دغه عمل وويل، خو هغه صلی الله عليه وسلم يې پر دغه کار کومه نيوکه و نه کړه. دې ته يې ونه ويل، چې د خپل پلار په شتون کې دې ټکری پر سر کړي، ځکه چې پلار يې سره له دې چې مشرک و، خو محرم بلل کېده. دا هغه څه و چې د اسلامي نظام کتاب څخه را اخيستل شوي وو.

موږ د ۱۴۳۴هـ.ق کال د رجب پر۱۳مه چې د ۲۰۱۵م کال د مې له ۲۳مې سره سمه ده، دغه نظر د ښځې د عورت اړوند موضوع په اړه د يوې پوښتنې په ځواب کې څرگند کړی و. موږ په هغه ځواب کې يادونه کړې وه: «د

ښځې د عورت اړوند استدلال ته په کتو سره دوه فقهي نظرونه شته، چې هر يو يې له يوې زاويې څخه استدلال لري.»

لومړی: د يوې ښځې عورت د بلې ښځې لپاره داسې دی، لکه د يوه سړي عورت د بل سړي لپاره؛ چې د نامه او زنګنو ترمنځ دی او دا د ځينو علماوو نظر دی.

دويم: يوه ښځه د بلې ښځې لپاره ټوله عورت ده، پرته له هغو ځايونو څخه چې په عمومي توګه يې ښځې سينګاره وي او يا د سينګار ځايونه وي. سر ځکه عورت نه دی، چې د تاج ايښودلو ځای دی. مخ ځکه پکې نه راځي، چې د رنجو ځای دی؛ غاړه او سينه ځکه عورت نه دي، چې د غاړه کۍ ځای دی. له همدې امله غوږونه د غوږوليو ځايونه دي، مړوندونه د بنګړيو، لاسونه د ګوتمۍ، پښه د نکريزو، نو ځکه عورت نه دي. دا چې د زينت عادي ځايونه بلل کېږي، له دې پرته نور ټول ځايونه د ښځې په تړاو عورت دي؛ چې هغه له نامه څخه تر زنګنو پورې نه محدودېږي، بلکې نور ځايونه هم دي.

او دليل يې د الله سبحانه و تعالی دغه وينا ده:

**﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَىٰ عَوْرَاتِ النِّسَاءِ﴾**

[النور:۳۱]

***ژباړه:*** *او اې پېغمبره! مومنو ښځو ته ووايه، چې خپلې سترګې کنټرول کړي او د خپلو شرم ځايونو ساتنه وکړي. خپل ځان جوړونه او سينګار دې نه ښکاره کوي، پرته له هغه چې په خپله ښکاره شي او پر خپلو سينو دې د خپلو پوړونو پلوونه واچوي. هغوی دې خپل سينګار نه ښکاره کوي، پرته له دغو خلکو څخه لکه: مېړونه، پلرونه، د مېړه پلرونه، خپل زامن، د مېړونو زامن (بنزيان)، ورونه، وربرونه، خوريان، خپلې ښځې، خپل مملوک، تر خپل هغه لاس لاندې نارينه چې ښځو ته حاجت نه لري او هغه ماشومان چې لا تر اوسه پورې د ښځو له پټو خبرو سره اشنا شوي نه وي، يعنې په دغو ماشومانو کې جنسي غريزې نه وي را ژوندۍ شوې.*

پر همدې بنسټ، دوی ته روا ده چې د ښځو هغو ځايونو ته وګوري چې ښکاري، لکه د ښځې وېښتيان، غاړه، د بنګړيو، کړيو او غاړګيو اچولو ځايونه او د بدن نورې ټولې هغه برخې چې د سينګار ځايونو په توګه منل شوې. لکه څنګه چې الله سبحانه و تعالی يې يادونه کړې:

«**وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ**» او دوی دې خپل سينګار ځايونه نه ښکاره کوي. په ايات کې د محرمو خپلوانو يادونه شوې او دغه راز د ښځې يادونه شوې او دې ته په کتو سره د ښځې لپاره روا ده، چې د بلې ښځې د زينت او سينګار

هر ځای ته وګوري. د ښځې د زينت له دغو يادو شويو ځايونو څخه پرته نور ټول د بلې ښځې لپاره عورت بلل کېږي.

زموږ له انده له دليل سره سم دا غوره (راجح) قول دی، ځکه هغه کسان چې د ښځې عورت د نارينه د عورت په څېر د بلې ښځې لپاره بولي ( له نامه څخه تر زنګنو پورې) د پوښتنې د ځواب وروستۍ برخه ده.

هغه څه چې د ټولنيز نظام په کتاب کې راغلي، تبني شوي دي؛ ځکه د ټولنيز نظام کتاب يو تبني شوی کتاب دی او د حزب ټول غړي پرې خبر دي. هغه څه چې د پوښتنې په ځواب کې وويل شول، هغه هم تبني ده ځکه همدا د تبني وضاحت او شرح ده. د حزب هر غړی بايد دا تبني په پام کې ونيسي او هغه څه بايد پرېږدي چې وړاندې يې ويل او ترسره کول.

ب- د حايضې ښځې د قران ويلو د موضوع اړوند د پوښتنې ځواب، چې د انټرنېټ له لارې د ۱۴۳۶هـ.ق کال د ربيع الثاني پر لمړۍ چې د ۲۰۱۵م کال د جنورۍ له ۲۱مې سره سمه ده، خپور شوی و: د فقهي عالمانو د حايضې ښځې د قران ويلو د موضوع په جزياتو کې اختلاف لري. ډېری فقهاوو حايضه ښځه له قران ويلو څخه منعه کړې، خو ځينو په جزياتو او شرايطو پورې تړلې او اجازه يې ورکړې.

هغه څه چې زه يې غوره او راجح بولم دا دي، چې حايضې ښځې ته د قران ويل روا نه دي، ځکه پېغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«لَا تَقْرَأُ الْحَائِضُ وَلَا الْجُنُبُ شَيْئًا مِنَ الْقُرْآنِ»**

***ژباړه:*** *نه جنب او نه هم حايضه له قران څخه څه لوستلی شي.*

په پورته حديث کې چې څه راغلي په هغه باندې ډېرو عالمانو استدلال کړی. د دې ترڅنګ يو بل حديث شته چې جنب کس د قران له ويلو څخه منع کوي او حايضه ښځه هم د جنب په حکم کې راځي. دا حديث ابو داود او نسايي راوړی او په ابن ماجه کې په ورته الفاظو له علي رضي الله عنه څخه روايت شوی، هغه وويل:

**«كَانَ النَّبِيُّ يَخْرُجُ مِنَ الْخَلَاءِ فَيُقْرِئُنَا الْقُرْآنَ وَيَأْكُلُ مَعَنَا اللَّحْمَ، وَلَمْ يَحْجُبْهُ – أَوْ يَحْجُزْهُ – عَنِ الْقُرْآنِ شَيْءٌ لَيْسَ الْجَنَابَةَ»**

***ژباړه:*** *کله چې به نبي کريم صلی الله عليه وسلم له بيت الخلا څخه را ووت، نو قران به يې راته تلاوت کاوه او په ګډه به يې له موږ سره غوښې خوړلې او له جنابت پرته به هېڅ شي له قران څخه د ده مخه نه نيوله او پر وړاندې به يې پرده نه وه.*

له حديث څخه څرګنده شوه چې جنابت د قران د ويلو مخه نيسي، يعنې جنب کس قران تلاوت کولی نشي او حايضه ښځه هم د جنب کس په څېر قران تلاوت کولی نشي، ځکه د جنب په حکم کې راځي. د پوښتنې د ځواب پای.

د پوښتنې ځواب چې د حزب لخوا خپور شوی، تبني شوی نه دی؛ خو پرته له دریو حالتونو څخه: که چېرې د حزب په نوم لاسلیک شوی و یا د حزب له لخوا په تبني پورې اړوند ځواب و، لکه د شرح یا وضاحت په ډول او داسې نور. یا که حزب خپل نظرونه اړوندو سیمو ته په دې موخه لېږلې وي، چې د غړو تر منځ یې وویشل شي... لکه څرنگه چې د تبنیاتو په نوم په اداري فهرست کې بیان شوي دي.

دا څرګنده ده، د حایضې ښځې د قران تلاوت کولو اړوند چې موږ کومې پوښتنې ته ځواب ویلی وو، په پورته دریو یادو شویو حالتونو کې نه راځي. نو دا ځواب تبني شوی نه دی، شرعي او اداري اصولو ته په کتو سره د حزب غړي یې په ترسره کولو کې مکلف نه دي او په تر سره کولو کې یې د حزب غړي اختیار لري.

۳- دا چې موضوع اسانه ده، ښايي پای ته ورسېږي او سختي او پېچلتیا به نه وي پکې. د ټولو هغو څه په اړه چې د حزب غړي باید پرې پوه شي دا دي، چې کله د حزب له لوري نظرونه وړاندې کېږي وګورئ چې ایا تبني شوي او که نه. که نظر تبني شوی و، نو دی هغه ته ژمن پاتې کېږي، دا پر هغه باندې لازمي دی او دی باید د دغه نظر مخالف نظر پرېږدي. که نظر تبنی شوی نه وي، لازمي نه دی چې پلی یې کړي. هغه مسایل چې تبني شوي ټول د حزب غړو ته معلوم دي؛ لکه په جواب کې چې څرګند شوه او پاس یادونه ترې وشوه، په پوښته کې چې څه راغلي و هغه نه دي تبني شوي، خو پرته له دریو حالتونو څخه ....

۴- که څه هم هغه څه چې د حزب له لوري خپاره شوي، هغه تبني شوي نه دي او حزب یې په منلو او پلي کولو خپل غړي نه مجبوره وي؛ خو حزب دا غوره ګڼي چې غړي یې له ټولو هغو خپرو شوو مطالبو سره سمې خپلې کړنې ترسره کړي، ځکه د حزب خپاره شوي مطالب له لوستلو، کره کتنې، څېړنې او زیاتو هڅو وروسته خپرېږي.

هیله من یم چې موضوع درته روښانه شوې وي. له مغشوش کېدو او شخړو څخه ځان وساتئ او پر پوښتنې اړوندې موضوع باندې له وخت ضایع کولو څخه ډډه وکړئ.

**ستاسو ورور،**

**عطا بن خلیل ابو رشته**

**۱۴۴۰هـ.ق کال، د ذوالقعدې ۱۸مه**

**۲۰۱۹م کال، د جولای ۲۱مه**